اې الله! په حقيقت کې ژوند يوازې د آخرت ژوند دی؛ نو انصارو او مهاجرينو ته بخښنه وکړه

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «اې الله! په حقيقت کې ژوند يوازې د آخرت ژوند دی؛ نو انصارو او مهاجرينو ته بخښنه وکړه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې حقيقي ژوند يوازې هغه ژوند دی چې په اخرت کې دی، د الله په رضا، رحمت او د هغه په جنت کې؛ ځکه د دنيا ژوند له منځه تلونکی دی، او د آخرت ژوند تلپاتې او باقي دی، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو انصارو لپاره دمغفرت، عزت او اصلاح دعا وکړه چې نبي صلى الله عليه وسلم ته يې پناه ورکړه، مرسته يې ورسره وکړه او خپلې شتمنۍ يې ورسره شريکې کړې، او هم يې هغو مهاجرينو ته دعا وکړه، چې د الله تعالى د مهربانۍ او رضايت تر لاسه کولو په موخه يې خپلې کورنۍ او شتمنۍ پريښودې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3773